AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

لیکوال : شبیر احمد
۲۰۱۲/۰۵/۱۱

# مخالفین یا ملي وسلوال مقاومت؟

خپرونکي : خبریال

محمد عثمان روستار تره کي : مخالفین یا ملي وسلوال مقاومت؟
د رواني میاشت په څوارلسمه د پنجشنبې ورځ د خوشحال خان مېنې په سیمه کې دامریکا او افغانستان ترمنځ د ستراتیژیک تړون اړوند غونډه د ډاکټر فاروق اعظم صاحب په دفتر کې جوړه شوه چې ډېرو سیاسي او علمي څېرو په نوموړې غونډه کې ګډون درلود.

د غونډې ویناوال ډاکټر فاروق اعظم او ډاکټر روستار تره کی وو. وروستی برخه د سوالونو او ځوابونو له پاره وه. د غونډې له ګډونوالو څخه یوه تن له استاد محمد عثمان روستار تره کي څخه پوښتنه وکړه چې: تاسي په خپلو خبرو کې د حکومت مخالفین د وسلوال مقاومت او ملي مقاومت په نوم یاد کړل، آیا هغوی چې دولس د غوښتني خلاف ډول ډول کړني ترسره کوي، ملي مقاومت ورته ویلای شو؟

استاد تره کي ځواب ورکړ چې: که موږ د طالبانو سره په سیاسي لحاظ اختلاف وهم لرو او د نظرونو اختلاف موجود وي یا نه؟ موږ باید چې اوسنی مبارزې ته مقاومت ووایو او دا یو وسلوال او ملي مقاومت دی.
۴۴ هیوادونو زموږ پرهیواد افغانستان تجاوز او یرغل کړی دی. د متجاوزینو او اشغالګرو له خوا زموږ نږدې ۱۲۰۰۰۰ یولک شل زره بې ګناه افغانان وژل شوي دي.
زموږ ډیری افغانان د بګرام او ګوانتانامو په زندانو کې شکنجه شوی او لاهم دغه لړی ادامه لري، هیوادوال مو په یو نوم اوبل نوم ځورول کیږي، کړول کیږي او وژل کیږي.

د ګوانتانامو او بګرام د زندانو د شکنجو او ځورونو په وړاندې، د امریکا د ظلمونو او ناروا په وړاندې چې کومه جګړه کیږي او روانه ده که هغې ته مقاومت ونه وایو؟ هغه ته به څه ووایو؟

که اوسنی مقاومت نفي کیږي او ملت ددغه مقاومت ننګه نه وای کړې، تاسي به د ګوانتانامو او بګرام زندانونو په ډول په لسګونو نور زندانونه هم په هیواد کې دننه او له هیواده بهر لیدلي وای چې افغانان به پکې په ناحقه او بې له کوم جرم او ګناه څخه ځورول کیدل او شکنجه کیدل.

مقاومت د هغو مواردو څخه استفاده کوي چې دښمن ته زیات زیان او تاوان ورسوي. له همدې امله مقاومت د مجبوریت له مخې ځانمرګي بریدونه وکړل، او په همدې لومړني او ابتدایي عمل سره یې د اشغال له پیل څخه تر اوس پوري په لس ګونو زره اشغالګر بهرني عسکر وژلي دي.
بهرنیو اشغالګرو قوتونو د هیواد جنوب په کنډواله بدل کړ، او د جګړې د دوام په لټه کې دي، غواړي دغه ناجایزه جګړې ته دوام ورکړي، که وسلوال او ملي مقاومت نه وای، نو اوس به بهرنیانو جګړه د هیواد نورو برخو ته هم غزولي واي او هلته به یې هم د جنوب په څیر خپل ناروا عملونه او ناجایزي کړني تکرارولای، همدغه وسلوال مقاومت دی چې ددوی د ظلمونو او ناروا کړنو مخه یې نیولي ده.

استاد روستار تره کي د پوښتل شوي سوال دځواب په پای کې وویل چې: دغه مقاومت، مقاومت دی، تر هغه وخت مقاومت دی چې حق حقدار ته ورسیږي.

پای


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ